| | |
|---|---|
| حقوق بشر | Human rights |


محمد هارون خپل شعشعی


۱۱ سپتمبر ۲۰۱۲

## د افغانستان د ملي واکمنۍ سر په درياب کي دئ!

د يرغلگرو امريکايي لښکرو له خوا زموږ په پلرنی خاوره کي، د بي گونا افغانانو د اسارت او شکنجي دپاره د بگرام او داسي نورو محبسو جوړول، زموږ د ملي واکمنۍ د نقضولو او نست کولو تر ټولو دردونکی مثال دئ . دا زندان له يوې خوا د پردو پوځو له خوا د دې سرلوړي هيواد د پوځي اشغال او د کرزي د فاسدي او بی کفايتي اداري د مزدوری او بی واکی په مانادئ . البته، په دې خبره يوازي هغه څوک پوهيږي او پوهېدلای سي، چي په رگو کي( کي يي) د خپلواکی، ملي غرور او افغانيتويني وچليږي، نه مزدور کرزی، د پخواني شمالي اتحاد وطن پلورونکي جنگي دلي ټپلي، جهادي سوداگران، د پردو استخباراتي شبکو جاسوسان، د مخدره موادو کاروباريان او د غير انساني گټي وټي نور ټيټ او بی ايمانه دلالان، چي حيات او ممات يي گرده په پردو لښکرو پوري ترلئ دئ؛ او په دې سرلوړي هيواد کي د پردو عسکرو و همېشنی واکمنۍ، د ستر وياړ په سترگه گوري . دا بي ننگه، بي غيرته او بی ناموسه مزدوران، په غلامۍ او وطن پلورونه کي د روسي يرغلگرو تر نوکرانو هم سل کوټي مخکي دي؛ ځکه ټول شاهدان وو، چي سرو لښکرو زموږ د هيواد په لس کلن ( ۱۹۷۹ - ۱۹۸۹ع) اشغال کي هيڅکله د افغانانو د اسارت او شکنجي دپاره محبسونه نه لرل .

امريکايي اشغالگران د بگرام په محبس کي را غونډ سوي بنديان « د جنگ د حالاتو بنديان » گڼي، چي د دوی په باور يي هم محاکمه کول گران کار دئ او هم يي خوشي کول؛ ځکه نو د بين المللي حقوقو او درستي نړی د عامه افکارو پر خلاف استدلال کيي، چي دا ډول کسان بايد تر نامالومي مودې د زندان په تورو خونو کي بندي وساتل سي. د يادوني وړ ده، چي په دې مهيب او وحشتناک زندان کي پر مظلومو افغانانو سربېره د ځينو نورو هيوادو اتباع هم د بند و زند دردناکي ورځي تېريي . دا پردي وگړي اصلاً په خپلو متبوع يا نورو هيوادو کي نيول سوي دي؛ او وروسته د پوښتنو، پلټنو او شکنجو دپاره لاس ترلي، پټني ترلي و بگرام ته ببول سوي( په واقعيت کي تښتول سوي) دي . په بگرام کي د پردو اتباعو بندي کولو او شکنجه کولو، بېله شکه زموږ و اشغال سوي هيواد ته د بين المللي جېلخاني رنگ ورکړئ دئ . امريکايي پوځيان غواړي دا او هغه بنديان، تر نامالومي مودې په خپل واک کي وساتي، چي دوی يي د « مهمو کسانو» په نامه يادیي . ښايي تر هغه مهاله يي په خپل واکي ساتل

غواړي، چي يا د جسمي او روحي ناروغييو په وجه هوري ساه ورکي يا تر اوږدو شکنجو، کړاوو او غرور ماتولو وروسته د اشغالگرو پوځو له استخباراتي سازمانو سره د مرستي او همکارۍ ژمنه وکي!

له حقوقي پلوه، بي قانوني تور او قانوني محاکمي، د خلګو تعقيبول، نيول او توقيفول، د بين المللي حقوقو پر معتبرو اسنادو سربېره زموږ له نافذو ملي قوانينو سره هم کلک ټکر لري . د بشر د حقوقو د نړۍ والي اعلاميي په نمه ( ۹) ماده کي د خپلسر نيولو، توقيفولو يا شړلو د مخنيوي په باب داسي حُکم تسجيل سوئ دئ: « هيڅوک بايد له خپلسري نيولو، توقيف او شړلو سره مخامخ نسي. »[۱] همدا اصل د کرزي د مزدور رژيم د ټپل سوي اساسي قانون په اووه ويشتمه ( ۲۷) ماده کي د جرمو او جزاوو د مشروعيت په ترڅ کي بيان سوئ دئ، چي د هغه له مخي هيڅ عمل د هغه قانون له احکامو پرته، جرم نه ګڼل کيږي، چي د هغه تر ارتکاب مخکي نافذ يي (وي) .دغه راز د قانون له حکمو پرته، د هيچا په تعقيبولو، نيولو او توقيفولو لاس نه پوري کيږي .[۲] په ملي او بين المللي حقوقو کي، شکنجه او تعذيب تر غير قانوني تعقيبولو، نيولو او توقيفولو هم په سختو او جدي ټکو غندل سوي دي .[۳] افغانان په خپله قضاوت کولای سي، چي امريکايي يرغلګر او د افغانستان په امنيتي، استخباراتي او عدلي ادارو کي د هغو بېلابېل مزدوران د بين المللي حقوقو او افغاني قوانينو و دغو صريح احکامو ته څونه درناوی کيي!

د کرزي و مزدور، فاسد او بي کفايته رژيم ته د بګرام محبس قسمي يا جزيي واک سپارنه په هيڅ ډول زموږ د ملي واکمنۍ د بيا ترلاسه کولو او تضمين په مانا نه ده؛ ځکه امريکايي واکمنانو په ډاګه ويلي دي، چي غواړي ځيني په اصطلاح « مهم بنديان » مستقيماً په خپل واک کي وساتي . بي ښه و بده، تر نامالومي مودئ پوري د « مهمو بنديانو » په نامه د بي ګونا خلګو بندي ساتل د سرزورو کاوبايانو په دود دستور کي څه عجبه خبره نه ده . ټول جهان خبر دئ، چي د ګوانتنامو د زندان بنديان هم د بارک اوباما د رسمي ژمنو پر خلاف تر اوسه پوري د زندان په قفسو کي بندي ساتل سوي دي .

که امريکايان د بګرام محبس ټول بنديان، بي استثنا، د کرزي و مزدوري، فاسدي او بي کفايته اداري ته و هم سپاري، سره له دي هم زموږ له لاسه وتلئ ملي حاکميت بيرته نسي اعاده کېدلای!

د يرغلګرو امريکايي او ايتلافي پوځو ظالمانه اشغال، د ګاونډيو هيوادو بي شرمانه تېريو او لاسوهنو او په هيواد کي د بېلابېلو مزدورو ډلو ټپلو خاينانه معاملو زموږ و ملي واکمنۍ ته دونه سخت زيان رسولئ دئ، چي بشپړه او هر اړخيزه اعاده يي ولويو قربانييو ته اړتيا لري .

تر هغه مهاله چي زموږ په مدني، سياسي، فرهنګي او اقتصادي ژوند کي د پردو لښکرو راج او تاراج روان يي، د افغانانو د ملي واکمنۍ خبري بي لاپو او باټو بل څه نه دي . په داسي حال کي، چي پردي پوځونه زموږ پر کلو او بانډو بمباري کيي؛ شپه او ورځ زموږ د بېوزلو او بي بازخواستو هيوادوالو پر کورو، دوکانو، ماجتو او نورو محرمو ځايو چاپي وهي؛ د خلګو سترګي او لاسونه تړي، زموږ په شرف او عزت ملنډي وهي؛ د هيواد فضايي حريم، لاري، هوايي ميدانونه او نور ستراتيژيک ځايونه په خپل واک کي لري، د ملي واکمنۍ دعوه د اوبو مخ کرښي دي او بس .

په ډېري خواشينۍ سره افغانان دمګړۍ له مځکنۍ بشپړتيا څخه نيولي بيا تر ملي واکمنۍ او سياسي خپلواکۍ پوري هيڅ يو هم نه لري . ايا دا مځکنۍ بشپړتيا ده، چي پاکستاني پوځيان ځودبرش کيلو متره زموږ خاوري ته را ننوزي؛ له پروسږ کال راهيسي زموږ د نورستان، کونړو او ننګرهار ولايتو پر سرحدي سيمو وحشيانه بمباري کيي؟! ايا د افغانانو ملي واکمني دې ته وايي، چي امريکايانو د عامي وژني ړانده ماشينونه ( ډرونونه) شپه او

ورځ زموږ له خاوري او فضايي حريم څخه په استفاده د مظلومو او بې ګونا پښتنو پر کورو او کلو بمبارئ کيي، خو موږ يې د پوښتني حق هم نه لرو؟!

د امريکايي او ايتلافي اشغال، پاکستاني تېرييو او ايراني لاسوهنو په شرايطو کي د سياسي استقلال مسأله هم و هر هوښيار او دراک افغان ته د پوهېدو وړ ده . تاسي وګورئ، موږ افغانان پر خپلو سرحدي سيمو د پاکستاني پوځيانو د بې شرمانه تېرييو سمدستي مخنيوی غواړو، خو د کرزي او شمالي ايتلاف امريکايي باداران دا کار له پاکستاني واکمنانو سره د خپلو اړيکو او خپلو نورو استعماري ګټو په زيان بولي؛ له همدې کبله يې ځانونه داسي ناګاره اچولي دي، چي ته به وايي هيڅ هم نه دي پېښ سوي . موږ د مصرفي او وارداتي اقتصاد پر ځای توليدي او صاداراتي اقتصاد ته اړتيا لرو، خو امريکايي او ايتلافي دولتونه ، آی . ايم . ايف (IMF) ، نړئ وال بانک او داسي نوري مالي مؤسسي زموږ دا روا غوښتنه له خپلو استعماري او استثماري ګټو سره په ټکر کي ويني؛ زموږ خلګ د خپلي ژبې، فرهنګ او ملي وياړونو ساتنه او پالنه غواړي، خو کرزی او د شمالي ايتلاف مزدوري ډلي ټپلي د ايراني اخوندانو د ډالرو او يوروګانو په اخيستلو سره د افغانانو دا ملي ارمان تر پښتو لاندي کيي. په دې او بې شماره نورو مثالو کي د کرزي د مزدور رژيم سياسي خپلواکي چيري ده؟!

تر هغه مهاله چي د پردو وسلې، پيسي او تبليغات زموږ پر سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي ژوند حکومت کيي، په دې وران هيواد کي د ملي واک خبره هم بالکل پوچه او بې ځايه ده . د پردي اشغال او بهرنييو لاسوهنو پر ختمېدو سربېره، زموږ واکمني تر هغه مهاله په سمه او دقيقه مانا ملي ختِه نسي موندلای، چي د هيواد سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي واګي د خاينو او جنايتکارو جنګي ډلو، پردو جاسوسانو، غلو او مافيايي کړييو پر ځای د دې زړور او سرلوړي ملت و خپلواکی مينو، وطندوستو او سپېڅلو بچانو ته و نه سپارل سي .

دمګړی خود افغانستان د ملي واکمنی د بيرته اخيستلو سر په درياب کي ښکاري، راسئ د ليکني په پای کي وافغاني لوري ته د بګرام محبس د جزيي واک سپارني پر ځينو عملي اړخو څو لنډي خبري وکو. زموږ باخبره لوستونکي پوهېږي، چي په افغانستان کي د ملګرو ملتو د مرستو د انسجام اداري ( يوناما) تر يوې اوږدې بې تفاوتی او چپتيا وروسته د تېر کال په اکتوبر کي د کابل د مزدور رژيم په محبسو او امنيتي - استخباراتي ادارو کي د بنديانو او نورو توقيف سوو کسانو د سيستماتيکو شکنجو په اړه څلور اويا (۷۴) مخيز رپوټ خپور کئ، چي د درې سوه، نه اويا ( ۳۷۹) مختلف النوع بنديانو او نيول سوو کسانو د مرکو پر بنسټ برابر سوئ ؤ . په دې رپوټ کي ويل سوي وه : « د هغو کسانو له نيمايي سره وحشيانه او ساديستي چلند سوئ دئ،چي د افغانستان استخباراتي ادارې ( ملي امنيت) يې پوښتني او ګروېږني کړي دي؛ او د هغو کسانو له دريمي برخي سره هم کټ مټ همدا چلند سوئ، چي د « ملي پوليسو» له خوا نيول سوي وه.» [۴] لنډه دا چي د افغانستان وسله وال پوځ، په تېره بيا محبسونه، امنيتي او استخباراتي ادارې تر ډېره حده د داسي کسانو په لاس کي دي، چي په شکنجه کولو او ربړولو کي ډېر بد نوم لري . که د بګرام د امريکايي زندان محبوسين د کرزي د فاسد او بې کفايته حکومت د لنډغرو په لاس کښېوزي، زه پوره باور لرم، چي د مظلومو او بې پوښتني بنديانو د حبس رژيم به حتا د امريکايي اشغالګرانو تر حال هم بې خونده سي؛ ځکه د خاد، پوليسو او امنيت وحشيان په شکنجه کولو کي تر خپلو روسي او امريکايي بادارانو هم بې رحمه دي؛ هر څه چي کيي، هيڅوک يې د پوښتني او ګروېږني جرأت نه لري .

د قضيي بل اړخ دا دئ، چي کابل رژيم د امريکايي چارواکو په سلا مشوره، له وسله والو مخالفينو سره د پوخلاينې په خاطر، د ټولو بنديانو په خوشي کولو لاس پوري کي . په عزت او درناوي سره د بې ګونا بنديانو ايله کول، بېله شکه کولای سي د سولي او پوخلايني له بهير سره څه نا څه مرسته وکي . اشغالګر پوځونه او کابل

رژيم دواړه په هيواد کي د افغان اولس د کرکي کمولو او وسله والو مخالفينو د باور زياتولو دپاره و دغه راز نرمښت ته ډېره اړتيا لري؛ مگر په کابل رژيم کي د پخواني شمالي اتحاد ټولي واکمني ډلي ټپلي هيڅکله دغه راز نرمښت ته زړونه، نه ښه کيي . راتلونکي وختونه به د دي معقول او گټور اقدام په وړاندي د سولي او پوخلايني د مخالفينو دريځ لا پسي روښانه کي .

**لمنليکونه**

[1] **United Nations, <u>The Universal Declaration of Human Rights , adopted on 10 December, 1948</u>: http://www.un.org/en/documents/udhr/**

[۲] ( قانون اساسی افغانستان ، ۱۳۸۲) .

[۳] **د پراخو مالوماتو دپاره وگورئ : محمدهارون خپل، « د برغلگرو پوځو او مزدورو زورواکو سيستماتيکي ځوروَني »، لومړی او دوهمه برخه، ۲۳ ـ ۲۴/ ۱۰/ ۲۰۱۱، بېنوا ډاټ کام :**

**http://www.benawa.com/pashto/print.php?id=45449&**

**http://www.benawa.com/fullstory.php?id=45494**

[4] **United Nations Assistance Mission in Afghanistan, UN Office of the High Commissioner for Human Rights, <u>Treatment of Conflict-Related Detainees in Afghan Custody , October 2011, Kabul, Afghanistan</u>: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/October10_%202011_UNAMA_Detention_Full-Report_ENG.pdf**